(c) ketabton.com: The Digital Library



•• ✍♦✌ ★✐✍✁ ✎☝✍✌ ↖☠■🖬⇳↖❐📖◆❐ ★✐✍✁ ❼■🖫✎➁
✍•➔✍🖬■☺←❑♍✎✍✍✍✍ ([26]) نو د زړا له وجهي يې اواز بند سو تر خولې يې ږغ نه خاتی.

کله به د تهجد په لمانځه کښې په ژړا پرېوتی او ناجوړه به سو.

فایده: داد الله جل جلاله د وېرې څخه د هغه چا حالت دئ چې د نامه څخه یې لوی ـ لوی پاچاهان وېرېدل او رپېدل نن ورځ یعنې دیارلسنیم سوه کاله وروسته یې هم دبدبه، شان او شوکت منل سوی دئ، نن یو پاچا نه، حاکم نه بلکې یو کوچنی آمر هم د خپل رعیت سره داسې معامله نه کوي.

## ۷- د حضرت عباس رضي الله عنه نصیحت

وهب بن منبه رحمه الله فرمايي: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د سترګو دید لمنځه ولاړی یوه ورځ ما کعبې شریفې ته بوتی هلته چې ورسېدئ د یوې ډلې خلګو څخه د جګړې اواز راتلی ماته یې وویل ما دغه طرفته بوزه نو ماهلته بوتی ده مبارک درسېدو سره سم سلام وواېه هغو خلګو دده څخه د کښېناستلو غوښتنه وکړه ده انکار وکړی او وې فرمایل تاسو ته معلومه نه ده چې د الله جل جلاله د خاصو بنده ګانو ډله هغه خلګ دي چې د الله جل جلاله د وېرې څخه خاموشه وي حال دا چې هغه خلګ نه عاجزه او نه ګونګیان وي بلکې ښه پاکې خبرې کوونکې وي، ویونکې وي، پوهه لرونکې وي خو د الله تعالی جل جلاله لوی ذکر ددوی زړونه حیران کړې وي ددغه وجهې څخه یې زړونه مات وي او ژبې یې خاموشه وي کله چې دوی ته په دغه حالت کې پوخوالی پیدا سي نو نېک

([26]) سورة يوسف الاية (٨٦)

